مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: محمدابراهیم سپېڅلی
۲۰۲۶/۰۹/۱۷

# تابوت

پاچا امر وکړ، ترکاڼ باید سبا سهار له لمر څرک سره سم په دار وځړول سي.

ترکاڼ ټوله شپه لټ پر لټ اوښتی فکر يې خراب ؤ.

مېرمن: لکه نوري شپې ارام ويده سه، هر څه د خدای په لاس کي دي او هغه ډېر مهربان دی. دې خبري يې زړه ارام کړ او کرار ويده سو.

سهار وختي د عسکرو د بوټونو دربې له خوبه راويښ کړ، په ناهيلۍ يې مېرمني ته وکتل : " ناحقه مي ستا په خبره باور وکړ!"

په لړزېدلو لاسونو يې د سرای دروازه کرار خلاصه کړه، دواړه لاسونه يې د ولچک کولو لپاره سپاهيانو ته وړاندي کړل، خو عسکرو ورته وويل: " پاچا مړ سوی دی، ژر کوه يو کلک تابوت چمتو کړه!"

۲۰۲٦ سپيتمبر ١٤
المان، ريمبخ ښارګوټی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ